دَ علم الفرائض دَ اُصولو ذکر په شعرونو کښې

# دَ میراث احکام

## (منظوم)


لیکوال

مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلامیة علامه محمد

یوسف بنوریؒ تاؤن کراچی.



ناشر

اسلامی ادبی ټولنه مردان

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

وصلی اللّٰه علی النبی الامّی

# تمهید

دَ اللّٰه په نوم سره مې ابتدا ده
ذریعه چې دَ سکون په دې دُنیا ده
هغه نوم سره سوالونه تول تمام کړم
هغه نوم سره سوالونه به مدام کړم
هغه نوم سره حل شوي مشکلات دي
هغه نوم سره سم شوي معاملات دي
هغه نوم سره غمونه لرې کیږي
هغه نوم سره کارونه تول سمیږي
هغه نوم سره نزول وي دَ رحمت
هغه نوم سره حُصول وي دَ برکت
هغه نوم سره شورو ده ابتدا ده
هغه نوم سره بښکلا ده نوررنیا ده

ورســـره درود ســـلام پـــه تـــاجــدار ﷺ
رهـــنـــمـــا زمـــونـــږ دَ ټـولــو پـــه هـــر لار
ســـلامـــونـــه پـــه هــغــوی دې وی مـدام
درودونـــــه ورســـــره پـــوره تـــمـــام
نـازل شـوې پـه دوی خـاص ښـکـلې برهان دے
پـــه قـــرآن ســره یـــاد شوې پـــه جهـان دے
دَ اسـلام ښـکـلی مذهـب هـغـه بُنیاد دے
ختـمـوُنـکـے لـه دُنیـا نـه شـرفسـاد دے
دَ انـصـاف حـکـمـونـه دې کښې ټول تمام دی
رښـاګـانــې دَ مـذهـــب ښـکـلــی اسـلام دی
ضـــروری ددې حـــکـــمـــونـو پیــژنـدل دی
دَ اسـلام حـکـمـونـــه ټـول پـوره منـل دی
ورســـره دی څـــهٔ احـکـــام هـم دَ میــراث
مـحتــاج دلتــه خـاص وعـام هـم دَ میــراث
مـونـږ روږه چې څـنـګـه دلتـه پیـژنـدل دی
دَ میــراث حـــکـــمـــونـو هـم ټول یـــادوُل دی

بيانوومه مختصر په دې کتاب کښې
دهوکه نه شے په تقسيم کښې په حساب کښې

# دَ علم فرائض تعريف

وارثان ورسره تول بهٔ معلوميږي
څوک وارث نهٔ دے، په دې سره بيليږي
دَ هريو وارث حصه بيانوي دا
ميراث دَهريو انسان تقسيموي دا
ورته علم ميراث وائي په دُنيا کښې
پکاريږي دا زمونږه په هرخوا کښې

# دَ حصول مقصد

ميراث دې سره هرخواته تقسيمېږي
دَ هرچا حصه پوره بهٔ معلوميږي
دَ ميراث دَ تقسيمولو ذريعه ده
بيان شوي دَ هرچا په کښې حصه ده

★★★★★

# دَ علم فرائض موضوع

دَ وارث اودَ ميـــــراث خبـــري دي کښـــــي
بـحـث تـل کـوي د هـرچا پـه حصـي کښـي
تـرکـــه مـــال ودولـت چـي څـهٔ بـاقـي وي
دَ عـلـم الـفـرائـض مـوضـوع دا بـه يقينـي وي

# دَ حصول فضيلت

دَ حـضـور نبـي کـريـم ﷺ دے خـوږ فـرمـان
دَ ميـــراث مســـائـل زده کـړے (پــه جهـان
نـورو خـلـقـو تــه هـم اُوښـائـے سبـق دا
( پــکـــار دی دلتـــه چـي زده تـل خـلـق دا)

# دَ ميراث نه موانع اسباب

مـوانـع راځـي څـلـور تـول پـه ميـراث کښـي
يـاد سـاتــه پــه هـريـو لـور تـول پـه ميراث کښي
وارث نـــهٔ جـــوړيـــږي هيـڅ کـلـه غـلام
درتـــه يـــاد دي دا بيـــان وي تــول تــمـــام

دَ مـورث وارث قــاتـل تـمــام مـحـروم دے
دا وارث کـۀ پــه قتـل سـره مـعـلـوم دے
لـه مؤرث نـه چي جُدا وی پـه مذهب کښي
وارث نـۀ جـوړیـږی هغـه یَـو مکتـب کښي
کـۀ وارث وی لـه مـورث نـه بیل وطن کښـي
وارث نـۀ جـوړیـږی بیـل جُدا مسـکن کښـي
چــي دَ یــو مســکـن دلتـــه دارالاسـلام وی
بـل پـه دارالـحـرب کښـي پروت پوره تمام وی
دا وارث دے لــه مـورث نـه بیـل وطـن کښـي
هیـڅ کلـه وارث نـۀ شـی بیـل مسکن کښي
مـوانـع دغــه څـلـور دی پــه میـراث کښـي
هرطـرف تـه پـه هرلـوردی پـه میراث کښي

# ترکه به کله تقسیمیږی؟

هغـه هـرڅـۀ چـي شی پاتـي لـه انسان نـه
تــرکـــه ده پـــاتــي پــاتــي مسلمــان نــه

په اول کښې مال جدا به دَ کفن شی
قرضه هریوه ادا به دَ هرتن شی
پوره کیږی وروستو بیا به وصیت
هله وروره ! تقسیمیږی به دولت
په ثُلث کښې وصیت پوره کیدې شی
په دې حال کښې مبتلا خلق لیدې شی
ناجائزامردَ پاره ناروا دے
هم وارث له ناجائز په دې دُنیا دے
کله دغه مرحلې چې شی تمام
جوړ به دلته دَ تقسیم شی بیا مقام
ذوی الفروض تولو کښې اول حقدار دی
دَ مرحوم ، مرحومې ، دا تول رشته دار دی

## سهام مقدّره (6 شپږ) قسمه حصې

نِصف ، رُبع ، ثُمن درې حصې اول دی
ثُلث، ثلثان ، او سُدس ورسره تل دی
مستحق ددې تمام ذوی الفروض دی

مستحق ددې مدام ذوي الفروض دي
نِصف یاد ساته، دا نیمه ده په مال کښې
بیا دَ نِصف، نصف رُبع ده احوال کښې
بیا دَ رُبع نِصف ثمن په جهان ده
پټه کله دا حصه له مسلمان ده
ثُلث، ثُلث چې راجمع شی ثُلثان شی
دوه حصې به راجُدا په دې مکان شی
سُدس برخه ده شپږمه په دُنیا کښې
شك پکار نهٔ دے هیڅ کله حق وینا کښې

## اصحاب الفرائض(12 ذوی الفروض)

په حصو سره قرآن کښې چې څوك یاد دي
هغه اصحابُ الفرائض ټول افراد دي
نارینه په کښې په شمیر سره څلور دي
زنانه په کښې موجود اته په کور دي
پلار، نیکهٔ بیا تر نیکهٔ سَکه کړه بره

نــاریــنـــه اول دا یـــاد کــړه دوه لـــه ســره
مــور شــریك وروروورســره   پــه هــر قـدم دے
خاونـد شمیـر کنبـې هـم راغلے پوره سَم دے
نـاریـنـــه دا ټـول څـلـور پــه هـرطـرف دی
زنـانـــه بیـا اتهـــه نـور پــه هـر طـرف دي
پـه ذوي الـفـروض کنبـې ډ مـرحوم بـی بـی ده
لـور، نـمسـی پـه څلـورم خـور حـقیـقی ده
پــه پـنـځـم نـمبـر ده ، پـلار شـریـکـه خـور
پـــه شپــږم نـمبـر ده ، خـور شــریـکـــه مـور
بیـا پـــه ووم نـمبـر ده مـور ګـرانــه هـرچاتـه
پـــه اتهـم نـمبـر ده نیـا سـکـــه هـرخـواتـــه
دا تـمـــام ذوي الـفـــروض پـــه دي عـــالـم دي
پـــه حـصـوسـره ښـکـاره پـوره ټول سَم دي

# حالتونه ډَ پلار

دري حــالتـــه هــرطـرف تــه ډَ هـرپلاروی

تـــا ســـو دلتـــه بـــه لیـدلـي بـار بـار وي
چــې ځـــامـــن لــري دُنیـا کښـې کـلـه پلار
یـــا بـــچــی وي دَ ځـــامـــنـــو پـــه دې دار
پلار تـه مـال کښـې بـه شپـږمـه ملاویـږي
کـلـه دا صـورت چـې دلتـه کښـې جوړیـږي
چـې لوریـانـی لـري دلتـه کښـې تنها څوک
زنـــانـــه اولاد لـــري چـې پـــه دُنیـــا څـوك
هم حـصـه دَ پلار حـصـه شپـږمـه ده تمامـه
ځـــان خبـر کـړه لـــه پـوره پـوره کـلامـــه
عـصبـه بـه هـم په مال کښې دا ساعـت وي
هـر کـلـــه چـې پـــه دُنیـــا دغـــه حـالـت وي
چـې ځـامن ، لوریـانـي نۀ لـري دُنیا کښـې
غـلـط نـۀ شـے هیـڅ کـلـه په دې وینا کښـې
پـلار بـــه دلتـــه عـصبـــه پـــه دې مـحـل وي
جُـدا شـوې بـــه حـصـــې تـریـنـــه اول وي
دریـــم دغـــه دَ پـــلار پـــه هـــر مـحـــل دے

یاد ساتلي هر هوښيار دا له ازل دے

# دَ جدِّ صحیح (نیکۀ) حالتونه

دري حالته دَ نیکه هم دغه شان دي
کتابونه کښې تمام دا تول بیان دي
چې وارث کله دَ یو انسان نمسي شي
یا وارث دَ یو بشر چې کله ځوي شي
مقرر حصه شپږمه جَدّ(نیکۀ) دَ پاره
دا له مال نه به بیلیږي له مالداره
چې وارثه شي دَ چا نمسی یا لُور
دا بیان دي تا ته یاد وي تول ضرور
هم شپږمه دَ نیکۀ دلته حصه ده
دده تولـه باقي پاتي ترکه ده
عصبه دے دَ حصې هم دے حقدار
دا حالت چې هر کله جوړ شي تیار
دَ اولاد نه چې محرومه یَو بشر وي

دَ هــرچــا بـــه پــه دادا بــانـدې نـظـروی
صـرف صــرف دلتـــه کېږي بـه عـصبـه وی
د دا دا بـــه بـــاقـــی پــاتــې دا حـصـــه وی

# فرق

فـرق دوی کېږي پـه څلور قسمـه هرخوا دے
چـــې وارث کـــلـــه دَیـــو بشــــر دا دا دے
پلار چـې وی ، مـحـرومـه نیـا شـی وراثـت نـه
چې نیـکـهٔ وی ، مـحـروم نـهٔ وی نیـا دولت نـه
ورونـه ، خـویندې به محرومه وی چې پلار وی
کــهٔ نیـکـهٔ وی دغـه ټول بـه حـصـه داروی
ثُـلُـث مَــا بَـقِـیَ وی بـــه، چـې وی پــلار
حـصـــه مُـورلـه وراثـت کېږي ښـهٔ پـه جـار
ثُـلُـــثِ کُـــل بـــه مـلاویـــږی چـــې دادا وی
دَ مـــرحـــوم دَ مـــور حـــصـــه بـــه دا صـفـا وی
چـې مـعـتـق کـلـــه وفـــات شی پـه جـهـان

آ زدولـــــو والا نـــــــــۀ لــــــري انســــــــان
پلار او ځـوئـې لـرې مـوجـود دغـه حالت کښې
دواړه جـوړ بـــه وارثـــان شـی حـقـيـقـت کښـې
کــــۀ نيـکـــۀ او ځــوئـــې راجمـع شـوتـمـام
مـحــروم ځـوئـې بــه کـړي نيکـه پـه دې مقام

## دَ مـور شـريك(اخيـافي) وروړ حالـتونه

حــــــالتــــونــــــه درې دَ وروړ اخيـــــافـــــی دی
فــرضـــی نـــۀ دی ، ټـول ثـابـت دا يـقـيـنـی دی
سُـدس بـــرخـــه بـــــه ددۀ وی چـې تـنـهــا وی
يـو نـــه زيـــات لـره بـــه ثُـلـث پـــه دُنيـــا وی
پـلار نيـکـۀ سره بـه هـرخـواتـه مـحـروم وی
دَ اولاد ســـره مـحـــروم بــــه بـنـۀ معـلـوم وی

## دَ خاوند حالتونه

دَ خـــاونـــد دوه حـــالـتـــونــــه پــــه هـــر لـور دی
تـعـلـق دغــــــه رشتـــې پــــــه هــريـو کـور دی

اولاد نــۀ لــري، دَ نـصف بیـا حـقـدار دے
چـــې اولاد لـــري دَ رُبـــع حــصـــدار دے

## دَ ښځې حالتونه

حــالـتــونـــه دوه دَ ښــځــې وراثــت کښـې
دا راتــلــې شـې پــه جُـدا جُدا حـالـت کښې
چـې اولاد نــۀ لــري رُبــع ئــې حـصــه ده
لــه خــاونـد چـې څـومـره پـاتې تـرکـه ده
دَ اولاد ســــره دَ ثــمـــن ده حـــقـــداره
ځــان خبـرکــړه لــه صـحیح تـمـام ګـفتـاره

## دَ لُور حالتونه

حــالـتــونـــه وراثـت کښـې درې دَ لُـوروی
لــه نـظـر نــه ستـا تیـرشـوی بـه ضـروروی
دا تــنهــا چـې وی دَ نـصف بــه حقـدار وی
خبــرداره چـې وی هـغـه بـه هـوښیـار وی
ځـوئـې چې لـور سـره شـی جمع وراثت کښې

عـصبـه بـه لـوروي دلتـه شريـعـت کـښـي
يو په دوه به بيا دَ ځوئي حصـه وي زياتـه
ځـان خبـر سـاتـه تمـام تـهٔ لـه حـالاتـه

# دَ نمسيٍ (پوتي) حالتونه

دَ نـمسـی پـه جمع شپږ دي ټول حـالات
وراثـت کـښـي چـي راځـی پـه کـائـنـات
نيـمـه بـرخـه بـه ددهٔ حـصـه هر خـوا وي
ځـوئي او لـور چـي کـلـه نـهٔ وي ، دي تنهـا وي
دوه يا زيات چي کله دوي وي په تعداد کښي
بيـا ثُلـثـان حصـه مدام دي وي ستا ياد کـښـي
کـهٔ نـمسـی ، نـمسـو سره جمع شی لُور
دَ نـمسـو بـرخـه سدس بـه شـی ضـرور
کـهٔ لـوريـانـو سـره جمع دا نمسی شـی
مـحـروم دلتـه بـه نـمسـی تـمـام ژوندي شـی
کـه نـمسي سره نـمسـے وي هم لـوريـانـي

مسئلي دلته تمامي دي اساني
دا نمسي به عصبه وي دي صورت کښي
دغه حکم دے موجود په شریعت کښي
چي نمسي راشی دَ ځوئي سره دُنیا کښي
وراثت نه به محرومه شی وینا کښي

# دَ سَکه (حقیقی) خور حالتونه

حالتونه تول پنځه دَ سکه خور دی
صورتونه دا موجود په هریو لور دی
دَ نصف به وی حقداره چي تنها وی
چي وی زیاتي بیا په حکم به جُدا وی
چي له یَو نه کله زیاتي په جهان وی
خامخا ورله حصو کښي به ثلثان وی
سکه خور سره چي جمع سکه ورور شی
عصبه به دَ جهان په هریو لور شی
چي دَ لور، نمسي سره جمع هرخوا شی

خور به دلته عصبه بیا خامخا شي
پلار او ځوئې چې وي موجود دا وي محرومه
ښه واضحه مسئله دا ده معلومه

# پلار شریکه(علّاتي) خور

ووۀ تمام دَ علاتي خور دا حالات دي
نقل کړي ما تمام په کائنات دي
تنها هر خواته دَ نصف ده حقداره
کۀ څوك غواړي دَ اسلام شریعت لاره
دوه یا دوه نه چې دوي زیاتې په جهان وي
خامخا ورله حصه به بیا ثُلثان وي
دَ خپل ورور سره به هم تل عصبه وي
خپل مقام لري ، ددې خپله حصه وي
سکه خور سره چې جمع کله دا وي
سدس برخه به ددې بیا خامخا وي
دوه خوریانې چې سَکه ورسره راشي

دا محرومه وراثت نه په دُنیا شي
علاتي ورور سره مَل چې کله دا شي
عصبه به هر طرف ته په دُنیا شي
سَکه خور چې نۀ وي دا به عصبه وي
لُور، نمسې سره يو ځائې، ددې حصه وي
سکۀ خور به عصبه دلته مدام وي
چې موجود کله دلته په دې مقام وي
ځوي، نمسی سره محرومه دا هرخوا وي
دا محرومه پلار سره هم، په دُنیا وي

# مور شریکه (اخیافي) خور

مور شریکه خورلري درې حالتونه
دا ښکاره بیان لیکي ټول کتابونه
دَ سُدس حقداره وي به چې تنها وي
يَك يوازې چې دا دلته په دُنیا وي
دوه یا زیاتې په تعداد سره چې دا وي

ثُلث برخه به ددي بیاخامخا وي
دَ اولاد سره محرومه په جهان وي
پلار، نیکهٔ سره محرومه دغه شان وي

# دَ مور حالتونه

حالتونه دري دَ موردي وراثت کښي
دا حکمونه ټول راغلي شریعت کښي
دَ اولاد سره هرخوا په هر مقام
روڼو، خویندو سره دلته کښي مدام
دا چي مَل شي نو دَ سُدس شي حقداره
ځان خبر ساتي هوښیار له صحیح لاره
چي اولاد نه لري کله په جهان
وروڼو، خویندو سره مل شي په ښهٔ شان
بیا دَ ثُلثِ کُل مالکه به جوړېږي
دا صورت چي کله دلته پیدا کیږي
ثُلث مَا بَقِيَ برخه به دمُوروي

صورتونه ورسره چې دا په کُور وی
مور او پلار سره چې اَحَدُ الزَّوْجَیْن وی
ثُلث مَا بَقِیَ بیا دَ اَبَوَیْن وی
کۀ دَ پلار په ځائې نیکه دلته کښې راشی
ثُلث کُل حکم به دلته په دُنیا شی
داسې ثلث ملاویږی به بیا مور ته
دا خبر دَ رسُولو دے هر کور ته

## دَ جَدّه (نیا) حالتونه

حالتونه دَ جَدّه (نیا) درې تول تمام دی
مالیکلی دلته کښې په دې مقام دی
چې هر څو مره وی دَ دوی دلته تعداد
سُدس برخه ده د دوی دا ساته یاد
دا محرومه وی موجوده چې وی مور
یاد ساته دغه بیان په هریو لور
دَ پلار مور به وی محرومه چې وی پلار

څان خبر ساتی پوره پوره هوښیار
دَ پلار مور چې وی ژوندې، نیکهٔ ژوندې وی
نهٔ ده ، نهٔ ده چې محرومه نیا په دې وی
دَ مور ، مورلره حصه به خامخا وی
پلار، نیکهٔ کهٔ ورسره په دې دُنیا وی
نیا چې هریوه وی دا حکمونه یاد کړه
پوره پوره تول خبر په دې اولاد کړه

## عصبه

عصبه دَ مرحوم هغه خپل خپلوان دی
باقی پاتی لره دلته وارثان دی
باقی پاتې له ذوی الفروض نه مال
اخلی دلته وراثت ، نه کوی سوال
دا حصه ورله اسلام کښې مقرر ده
ښهٔ ښکاره دا هرطرف ته په نظر ده
په دوه قسمه هرطرف ته عصبات دی

نسبی ، سببی بیل بیل په حالات دی
نسبی کښې بیا قسمونه درې تمام دی
عصباتو کښې شامل په هر مقام دی
عصبه بِنَفسِهٖ اول شورو کښې
ښځۀ اسان دی دا قسمونه یادیدو کښې
عصبه لِغَیْرِهٖ ورسره بل دے
عصباتو کښې دا قسم له ازل دے
مَعَ غَیْرِهٖ دریم قسم ددُنیا دے
عصباتو کښې شامل ښکاره صفا دے

# ذوی الارحام

عصبه ، ذوی الفروض چې نۀ وی کله
په ژیه ذوی الاحام به راځی هله
نۀ چې وی ذوی الفروض دا خپل خپلوان
عصبه چې نه کله یَو انسان
خامخا به دلته کښې ذوی الارحام وی

رشتــه دار چـې څـو مـره دلتــه ستـا تـمام وي
پــه څـلـور قـسـمــه خپـلـوان ذوي الارحـام دي
ذکـــر شـوي لانـدې هـغـــه تـول تـمـــام دي
اول هـغـــه چـې شـامـل وي پـه اولاد کښـې
دَ اولاد بــچــی مـدام اُوســی پــه یـاد کښـې
جـدّه یـــا جـدِّفــاسـد پــــه هـــر مـقـــام
دا دویـــم قـسـم دلتــــــه دَ ذوالارحــــــام
دریــم اولاد دَ عَلاتـــــی ، اخیــــافـــی رونــو
دَ خـــوریـــانـــو اولاد هیـــر نشـی لـــه زړونـــو
یـــا دَ نیــــا نیـکــــه اولاد پــــه هــــرطــرف
پـوره دلتــــه دا کـــړه یـــاد پـــه هـــرطــرف
دا تـمــام ذوالارحـکــام دي پـــه دُنیـا کښـې
درنــه هیــر نــۀ شـی دا یـو هُـم پـه خطا کښـې
چـــې مـنـصـوص وارثــان نـــۀ وي دَ انسـان
هـلـــه دلتـــه دوي جــوړیـــږي وارثـــان
چـــې اصـل نـــۀ وي دَ فـــرع بیـــا مـقـــام وي

## خــا مــخــا پـــه دي مـقـــام ذوي الارحـــام وى

★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★

ربّنا تقبل منّا انك انت السّميع العليم وتُب علينا انك
انت التّوّاب الرّحيم .

وماتوفيقى الا باللّه العلى العظيم

وصلى اللّه تعالىٰ علىٰ خير خلقهٖ محمد والهٖ
واصحابهٖ اجمعين . آمين